# شتمنی SHTAMANI
تأسیس: ۱۳۹۴ل ل
اوونیزه
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی
د افغانستان اسلامي امارت
د مالیې وزارت
( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري )
د محرم الحرام ۲۳ -۱۴۴۷ل س | د چنګاښ ۲۸ -۱۴۰۴ل ل | د جولای ۱۹-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱٤٥ ګڼه | ٤ مخيزه



**د کامل مسلمان صفت**

د حدیث ژباړه: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت کوي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کامل مسلمان هغه څوک دئ، چې نور مسلمانان د ده د ژبې او لاس له شر څخه خوندي وي او مهاجر هغه څوک دئ، چې له هغو کارونو ځان لیرې وساتي، چې الله منع کړي دي. [رواه البخاري و مسلم]

**صفت کامل مسلمان**

ترجمه حدیث: عبدالله بن عمر رضی الله عنهما روایت میکند که رسول الله ﷺ فرمود: مسلمان کامل کسی است که دیگر مسلمانان از شر زبان و دست اش در آمان باشد، و مهاجر کسی است که هر آن کاری را که الله منع قرار داده از آن دوری کند. [رواه البخاري و مسلم]

## سرمقاله

### پیشرفت اقتصاد کلان، گام بنیادین برای استقلال پایدار کشور

در جهان امروزی توجه به مسئله اقتصاد ملی نه تنها یک امر ضروری، بلکه ضامن بقای همه جانبه سیاسی، فرهنگی و اجتماعی کشورهاست. چون رقابت اقتصادی میان ملت ها یکی از پایه های اساسی قدرت کشورها بشمار میرود. افغانستان، با وجود چالش‌های چند دهه‌ی گذشته، از دیدگاه منابع طبیعی، نیروی انسانی جوان، موقعیت جغرافیایی راهبردی و بازارهای نو پیدا ظرفیت‌های گسترده ای دارد که می‌تواند این کشور را از وابستگی به کمک‌های خارجی آزاد سازد. ناگفته پیدا است که پشتیبانی از صنایع کوچک و متوسط، تقویت صادرات، کاهش واردات کالاهای غیرضروری و ترویج مصرف کالاهای وطنی از طرف امارت اسلامی، گام‌های مؤثری در جهت پیشرفت اقتصادی کشور است. اقتصاد کشور زمانی می‌تواند پویایی خود را بازیابد که بر پایه‌های مستحکم تولید داخلی، سرمایه‌گذاری در بخش های خصوصی، تقویت زنجیره‌های ارزش، اصلاح نظام مالیاتی و مدیریت شفاف منابع استوار باشد. از سوی دیگر، توسعه اقتصادی بدون مبارزه با فساد، اصلاح سیستم‌های تدارکاتی و بودجه‌ای و شفافیت در مدیریت منابع عامه ناممکن است. نقش دولت در این میان، سیاست گذاری، نظارت و حمایت از بخش خصوصی و تولید داخلی است. در شرایطی که کشور و مردم ما با بحران بیکاری، فقر و مهاجرت روبرو بوده، احیای اقتصاد ملی می‌تواند امید را به بدنه جامعه تزریق کرده و مسیر رشد پایدار اقتصادی را هموار سازد. برای رسیدن به این هدف، همکاری بین دولت، بخش خصوصی، موسسات آموزشی و غیره نهاد ها حیاتی است. اکنون زمان آن فرا رسیده است که با نگاهی واقع‌بینانه و آینده نگر، اقتصاد ملی خود را در اولویت سیاست گذاری‌های کلان امارت اسلامی افغانستان قرار دهیم و با اتکا به توان داخلی، گامی به سوی افغانستانی توانمند و مستقل برداریم.

**با احترام**

**اداره**

# د ګمرکونو او عوایدو معین د هیواد ځینو شمالي ولایتونو ته سفر وکړ




د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید د یوه پلاوي په مشرۍ، چې د ګمرکونو لوی رئیس او د عوایدو لوی ریاست مرستیال ئې هم په یو شمېر ولایتونو کې ملتیا کوله، د هیواد شمالي ولایتونو ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې؛ جوزجان، فاریاب، سرپل، بدخشان، تخار، بغلان، سمنګان، بلخ او کندوز ته سفر وکړ او هلته ئې له ولایتي مسئولینو سره وکتل. د ګمرکونو او عوایدو معین او مل پلاوي ئې د ځینو ولایتونو له والیانو او مستوفیانو سره پر لیدنو سربېره، د بلخ له والي، مستوفي او مسئولینو او دارنګه د فاریاب ګمرک له رئیس د دې ولایت له مسئولینو، د سرپل له مستوفي او د کندوز ولایت له والي، مستوفي، د ګمرك له سرپرست رئیس او په بلخ کې له ملي سوداګرو سره هم په جلا توګه وکتل او هلته ئې د شاوخوا (۲۷) میلیونه افغانیو په ارزښت د هنګر جوړوني پروژې له چارو څخه هم لیدنه وکړه. ښاغلي سعید د یادو ولایتي برخو مسئولینو ته په پوره صداقت او ایمانداری سره د اړوندو چارو د ترسره کولو، پر وخت د مراجعینو ستونزو ته د رسېدو، د ولایتي ادارو ترمنځ په اړوندو چارو کې د اړینې همغږۍ رامنځته کولو، په شفاف ډول د عوایدو د راټولولو او یو شمېر نورو موضوعاتو په تړاو لازمي سپارښتنې وکړې. نوموړي د ولایتي مسئولینو ستونزې هم واورېدې او دغو ستونزو ته د اصولي رسېدو ډاډ ئې ورکړ.

# د ډنډپټان په ګمرک کې د (۸،۸) میلیونه افغانیو په ارزښت د لمریزې برېښنا سیستم جوړ سو



د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د (۸،۸) میلیونه افغانیو په ارزښت د پکتیا ولایت ډنډ پټان په ګمرك کې د (۹۰) کیلو واټه په ظرفیت سره د لمریزې برېښنا سیستم جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپاره. تر دې وړاندې د یاد ګمرك برېښنا له جنراټور څخه چمتو کېده، چې دغه جنراتور د (۱٦) ساعته فعالیت په اوږدو کې په منځنې ډول په ساعت کې د (۸) لیټرو ډیزلو په مصرفولو سره د ورځې (۸۴۴۸) افغانۍ، د میاشتې (۲۵۳۴۴۰) افغانۍ او د کال ئې څه باندې درې میلیونه افغانۍ لګښت درلود. د یادې لمریزې برېښنا سیستم له فعالېدو سره به په کلني ډول په میلیونونو افغانۍ وسپمېږي او ترڅنګ به ئې تخنیکي ستونزې هم راکمې سي. د یادولو ده، چې د یادې پروژې لګښت د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول سوی او چارې ئې د یوه افغاني شرکت له لوري ترسره سوي دي.

# په تېرو دوو اوونیو کې د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني ځیرکو کارکوونکو تېره اونۍ د فراه، کندهار، نیمروز، هرات، هلمند ولایتونو او نورو بېلابېلو سیمو کې په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي. په نیول سویو توکو کې (۸٦٦۴) کیلو ګرامه انساني طبي درمل، (۱۳۲۳۴) کیلو ګرامه چاکلېټ، (۱۷۳۲۰) کیلو ګرامه رُب، (٦۴۰) کیلو ګرامه شامپو، (۷۲۰) کیلو ګرامه لوبیا، (۳٦۰) کیلو ګرامه پلاستیک، (۲۹۰) کیلو ګرامه انرژي باب او (۲۴۰) کیلو ګرامه مالګه او دارنګه یوه اوونۍ مخکې هم (٦۱،٦) ټنه مالګه، (۱۷۸۴۳) کیلو ګرامه چاکلېټ، (۱۰۰۰۰) کیلو ګرامه نشه يي مواد، (۲۵۱٦) کیلو ګرامه انساني طبي درمل، (۵۴٦) کیلو ګرامه زراعتي درمل، (۸۰۰) کیلو ګرامه لواشک، (۵۰۰) کیلو ګرامه شامپو، (۳۰۰) کیلو ګرامه لوبیا، (۲۳۸) کیلو ګرامه رُب، (۲۲۲) کیلو ګرامه بیسکوټ، (۱۴۵) کیلو ګرامه سوډا او (۹۹) کیلو ګرامه د کالیو وینځلو صابون شامل وو، ونیول. نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي. د یادوني وړ ده، چې د مالیې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کې ګرځنده څارنه کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.






**د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د همغږۍ ناسته وسوه**

م ۲




**د کورنۍ پلټنې لوی ریاست پلاوي پروان، کاپیسا او پنجشیر ولایتونو ته سفر وکړ**

م ۲



**د ۱۴۰۵ کال د پراختیایي پروژو د تمویل له پاره د نویو کانسیپټ نوټونو د پېژندنې په موخه ورکشاپ جوړ سو**

م ۲



**د ملت سوداګریز مارکېټ رغنیزې چارې په چټکۍ رواني دي**

م ۲




**اداري اخلاق(Administrative ethics)**

م ۳



**د روسیې استازي په لوېدیځو هیوادونو کې د افغانستان د کنګل سویو شتمنیو د خوشې کېدو غوښتنه وکړه**

م ٤

# د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو تر منځ د همغږۍ ناسته وسوه

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د دغه معینیت د اړوندو ریاستونو ترمنځ د (۱۴۰۴هـ.ل) کال د همغږۍ څلورمه ناسته د یاد معینیت د غونډو په تالار کې وسوه.

په دې ناسته کې، چې د اړوندو ریاستونو مسئولینو ګډون کړی وو، په پیل کې د ګمرکونو او عوایدو معین مسئولینو ته د چارو د لا ښه والي په موخه اړینې سپارښتنې وکړې.

وروسته د تېرې ناستې د پرېکړو په اړه تاکل سوېو کمېټو د خپلو اجراآتو راپور وړاندې کړ، چې تر هر اړخیز بحث وروسته د رهبرۍ له لوري لازم هدایات ورته وسول.

همدارنګه په دې ناسته کې د پخوانیو مصارفاتي، مالیاتي او ګمرکي باقیاتو د حصول پر څرنګوالي، د صنعتي فابریکو پر واردېدونکو خامو موادو د (۲) سلني انتفاعي مالیې، د سوداګریزو شرکتونو د (۱۱۰) سلني د تضمین پیسې، چې په امانتي بانکي حساب کې پاتې دي او د خپلو جوازونو تصفیې ته نه حاضرېږي او یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه بحث او خبرې وسوې او په اړه ئې لازم تصمیمونه ونیول سول.

د یادوني وړ ده، چې د ګمرکونو او عوایدو معینیت د اړوندو ریاستونو ترمنځ د ګډو همکاریو د پیاوړتیا په موخه دا ناستې جوړېږي، چې ورته ناستې به په راتلوونکې کې هم دوام ولري.



## د کورنۍ پلټنې لوی ریاست پلاوي پروان، کاپیسا او پنجشیر ولایتونو ته سفر وکړ

د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی رئیس الحاج ملا عبدالهادي ابرار په مشرۍ پلاوي پروان، کاپیسا او پنجشیر ولایتونو ته سفر وکړ، چې د مستوفیتونو د چارو د ارزوني ترڅنګ ئې له مسئولینو سره هم په جلا توګه وکتل.

دغه پلاوي په دې کتنه کې د پلټنې د ارزښت، مؤثریت او اهمیت په اړه له مسئولینو سره خپل نظر شریک کړ او دوی ته ئې وویل، چې د مالیې وزارت رهبري د مستوفیتونو او ګمرکونو په چارو کې روڼتیا او اصلاحاتو راوستو ته ژمنه ده، چې دا کار د لوی ریاست او اړوندو ادارو ترمنځ د




همغږۍ او همکارۍ په پایله کې شوني دئ. دوی د تېرو پلټنو په لړ کې د پلټونکو له لوري د ورکړل سویو سپارښتنو د تطبیق څرنګوالی تعقیب کړ او له مسئولینو ئې وغوښتل، چې د چارو د سمون په موخه د پلټنې سپارښتنې په ټاکلې موده کې تطبیق او راپور ئې له دې ریاست سره شریک کړي.

تللي پلاوي په پای کې د هغوی کاري راپورونه ولیدل، ستونزې او غوښتنې ئې واورېدې او د مالیې وزارت له مشرتابه سره د ستونزو شریکولو او حلولو د ډاډ ترڅنګ ئې له دوی څخه د تېر په څېر د همکارۍ او رېښتیني کار غوښتنه وکړه.


د یادوني وړ ده، چې پورته ادارو د وروستیو پلټنو ډېرۍ سپارښتنې تطبیق کړي او هیله ده، چې پاتې سپارښتنې به هم ژر تر ژره پلي کړي.

## د ۱۴۰۵ کال د پراختیایي پروژو د تمویل له پاره د نویو کانسیپټ نوټونو د پېژندنې په موخه ورکشاپ جوړ سو

د (۱۴۰۵هـ.ل) کال د پراختیایي پروژو د تمویل له پاره د نویو کانسیپټ نوټونو (لومړنیو طرحو) د پېژندنې په موخه د عامه پانګونې پروسې ورکشاپ د پالیسۍ معینیت د کنفرانسونو په تالار کې د عامه پانګونې ریاست او د بودیجوي واحدونو د استازو په ګډون ترسره سو.

په دې غونډه کې د پروژو د کانسیپټ نوټونو پر ستونزو، د پروژو تر پلي کولو پورې د طرحې جوړوني پر لړۍ، د پراختیایي پروژو پر کټګورۍ، د یوې پړاویزې او درې پړاویزو پروژو پر تحلیل او ارزوني، د پروژو د ارزوني پر معیارونو، د پروژو د ارزوني پر طریقه، د پروژو د ارزوني کمېټې او د هغوی د دندو په تړاو معلومات د پریزنټېشن له لارې ګډونوالو ته وړاندې او پوښتنو ته ئې ځوابونه وویل سول.


پرېکړه وسوه، چې د (۱۴۴۶/۱۲/۳) نېټې د (۲۰ص-۲۳) متحد المال پر بنسټ، د بودیجوي واحدونو مسئولینو ته دنده وسپارل سوه، چې د (مرغومي تر ۱۵مې) پورې د خپلو پراختیایي پروژو کانسیپټ نوټونه بشپړ او د مالیې وزارت ته ئې واستوي.



## د ملت سوداګریز مارکېټ رغنیزي چارې په چټکۍ رواني دي

د مالیې وزارت اړوند د ملت په نوم سوداګریز مارکېټ، چې د کابل ښار په درېیمه ناحیه (میرویس میدان) سیمه کې موقعیت لري او ترون ئې د عامه او خصوصي مشارکت له لارې د مالیې وزارت او کمال ظفر کمپنیو ګروپ ترمنځ په (۱۴۴۵/۹/۱۴ هـ.ق) نېټه لاسلیک سوی وو، د (۳۲۳،٦٤٧،۸۲۰) افغانیو په پانګونه په (۱۳٦۷،۷) متره مربع ځمکه باندې د (۱۲) پوړونو په درلودلو سره په عصري او معیاري بڼه ودانېږي.

د یادې ودانۍ رغنیزې چارې به په درېیو کلونو کې بشپړې سي، چې د نا خالصو عوایدو



(۴۰) سلنه ونډه ئې د امارت او (٦۰) سلنه ئې ودانیز شرکت ته په پام کې نیول سوې ده.

دغه ستر سوداګریز مارکېټ د (۵۰۰) دوکانونو، د موټرونو د (۳) پوړیزه تمځای، رستورانټ، جومات او مېلمستون درلودونکی دئ، چې له ودانولو سره به ئې ګڼو هیوادوالو ته د کار زمینه هم برابره سي.

د یادوني وړ ده، چې د یادې پروژې رغنیزي چارې د ځینو خنډونو له امله ځنډېدلې وې، چې د اماراتي املاکو لوی ریاست په هڅو ئې ټولې ستونزې حل او دم ګړۍ ئې چارې په چټکۍ سره رواني دي.

## د املاکو لوی ریاست پلاوي د املاکو د اوسني وضعیت د ارزوني په موخه څو ولایتونو ته سفر وکړ

د مالیې وزارت د اماراتي املاکو لوی ریاست څخه یو ګډ تخنیکي او مسلکي پلاوی، چې مشري ئې د ولایتي املاکو رئیس قاري نعمت الله صادق کوله د اماراتي املاکو اوسني وضعیت د ارزوني په موخه بامیان، میدان وردګ، غزني او زابل ولایتونو ته سفر وکړ.

د دې سفر په لړ کې نوموړي د یادو ولایتونو له مستوفیانو سره وکتل او د املاکو اړوندو مسایلو په اړه ئې بحث او نظرونه تبادله کړل.

یاد پلاوي د قراردادونو د پلي کولو او ځینو ستونزو په اړه هم بحث وکړ، په دې ولایتونو کې د اماراتي املاکو کارکوونکو ته ئې له طرزالعملونو سره سم د املاکو د ښه مدیریت له پاره تخنیکي او مسلکي لارښووني وکړې.

د یادوني وړ ده، چې د ځینو ستونزو د هوارلو له پاره د استخباراتو او ښاروالۍ له مسئولینو سره هم جلا جلا غونډې وسوې، چې ښې پایلې ئې لرلې.

## ۴۰ تنو امنیتي سرتېرو ته جوړ سوی سیمینار پای ته ورسېد



د ساتنې او ځانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې د ښوونې او روزنې مدیریت په هڅو (۴۰) تنه ځوانان منسوبین د مالیې وزارت په امنیتي مفرزه کې له جوړ سوي (۲۰) ورځنی سیمینار څخه د یو لړ مراسمو په ترڅ کې فارغ سول.

په دغو مراسمو کې د ښوونې او روزنې مدیر حافظ مولوي مدثر (مدقق)، د عقیدتي چارو آمر مفتي عبدالرزاق (عبیده) او ګڼ شمېر نورو مسئولینو ګډون درلود.

د غونډې مشرانو یادو فارغانو ته د وینا پر مهال د اعداد ارزښت بیان کړ او زیاته ئې کړه، چې له زده کړو څخه په عملي ډګر کې ګټه پورته او په خپلو امنیتي مفرزو کې نور همکاران هم زده کړو ته وهڅوئ.

په پای کې نویو فارغانو د هیواد په هر ګوټ کې اسلامي نظام ته د خدمت کولو له پاره چمتووالی وښود او مراسم فارغانو ته د ډالیو او بریلیکونو په ورکولو سره پای ته ورسېدل.

## د کوچنیو مالیه ورکوونکو او بررسۍ ریاست کارکوونکو ته تصدیق پاڼې ورکړل سوې

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عواید ملي اکاډمۍ له تدریسي پلان سره سم، د کوچنیو مالیه ورکوونکو او بررسۍ ریاست کارکوونکو ته جوړ سوی روزنیز پروګرام د تصدیق پاڼو په وېش سره پای ته ورسېد.

په دغه پروګرام کې د عوایدو لوی ریاست عملیاتي مرستیال انجنیر خان محمد ذاکر، د عوایدو د بررسۍ رئیس عزیز الله ادیب، د دعوت او ارشاد ریاست مدرس شیخ محمد مبین امیني، د کارکوونکو چارو ریاست د ظرفیت لوړوني آمر مولوي محمد نادر همایون او د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي ګډون درلود.

د غونډې په پیل وینا کې د عوایدو د بررسۍ رئیس عزیزالله ادیب په خپلو خبرو کې وویل، چې راسپارل سوي مسئولیتونه باید په پوره صداقت او ایمانداری ترسره کړو او خپلې نیمګړتیاوې باید د اړوندو ادارو لخوا د جوړو سویو روزنیزو پروګرامونو له لارې پوره کړو.

وروسته بیا د کارکوونکو چارو ریاست د ظرفیت لوړوني آمر ښاغلي محمد نادر همایون په خپلو خبرو کې وویل، چې دغه پروګرامونه خورا ارزښمند څکه دي، چې د وزارت لخوا د بیت المال په لګښت برابرېږي او تاسې ته وړاندې کېږي.

هېره دې نه وي، چې له دې پروګرام څخه وروسته د لوګر ولایت د مستوفیت د عوایدې برخې (۲۴) تنو کارکوونکو له پاره د مالیاتي قوانینو، مالیاتي سیستمونو او مالیاتي پروسیجرونو په تړاو (۲۳) ورځنی روزنیز پروګرام هم پرانیستل سو.

SHTAMANI
اوونیزه

# اداري اخلاق(Administrative ethics)

استاد عبدالجبار وحدت
د بودیجې عمومي رئیس

هـر علـم اخـلاق لـري؛ لکـه: مـوږ، چـي د طبابـت، تجـارت او یـا نـورو برخـو اخـلاق یـادوو، مدیریـت هـم یـوه سلسـله اخـلاق لـري، چـي مدیریتـي اخـلاق ورتـه وایـي او اداري هـم پـه مسـلکي لحـاظ د دې لـه پـاره، چـي بقـاء ومومـي، د مراجعینـو رضایـت پـه کښـې تـر لاسـه سـي ځانګـړي اخـلاق لـري، اداري اخـلاق د عـصري اداري روحیـه جـوړوي، نن‌سـبا د تطبیقـي اخلاقـو تـر ټولـو مهمـو برخـو یـوه ئـې هـم د اداري اخـلاق دي. اداري سیسـتم پـه هـر لحـاظ وده وکـړه مګـر لـه بـده مرغـه پـه اخلاقـي لحـاظ منجمـد پـاتي سـو. پـه سـاده ډول ویـلای سـو، چـي اداري اخـلاق هغـه اصـول، چلندونـه او کـړني دي، چـي ټـول اداري کار کوونکـي ئـې بایـد د دنـدي پـر مهـال مراعـات کـړي، چـي پـه دې سره روښتیـا، عدالـت، حسـاب ورکونـه او ګـڼ نـور اهـداف خونـدي کېـدای او تر لاسـه کیـدلای سي، یـا اداري اخـلاق د اخلاقـي قواعـدو او لارښـودونو مجموعـه ده، چـي د اداري چـارو پـر مهـال د افـرادو او سـازمانونو چلنـد تنظیمـوي. دا چـي نـن د نړیوالتـوب بحثونـه ډېـر مطـرح کیـږي، ټکنالـوژي پرمختـګ کـړی دی، د خلکـو اړتیـاوي زیـاتي سـوي دي، سـازماني اخـلاق نهایـت مهم دي. فسـاد، بې بندوبـاري، ناسـم چلنـد د ادارو اعتبـار تـه سـخت زیـان رسـوي او بقـاء ئې ګواښـي او پـه ټولـه کـي د ټولنیـز بـاور د ټیټـوالي او کمـوالي باعـث کیـږي؛ تـر ټولـو مهمـه دا چـي پـه اسـلامي ټولنـو کـي اخـلاق یـو لـه مهمـو مکلفیتونـو، مسـئولیتونو څخـه شـمېرل کیـږي او د اجـر وړ عمـل دئ. پـه قـران پـاک کـي د اخلاقـو موضـوع پـه وار وار یـاده سـوې ده، همدارنګـه رسـول اللـه (ص) پـه ګڼـو احادیثـو کـي پـه ښـو اخلاقـو تأکیـد کـوي او مومنـان ورتـه رابـولي.

### د اداري اخلاقو بنسټیز اصول په لاندي ډول دي:

۱. ریښـتینولي Integrity)): یـو لـه مهمـو اداري اخلاقـو څخـه رښـتینولي ده، چـي کار کوونکـي بایـد ریښـتیني وي، کـه پـه یـوه اداره کـي د رسـمي چـارو پـر مهـال او ریښـتیا ویـل کیـدل پـوه سـئ، چـي پـه دې اداره کـي بنسـټیز اخلاقـي اصـل مـد نظـر نیـول سـوی دئ.




۲. روښتیـا: د اداري اخلاقـو یـو بـل لـه مهمـو او بنسـټیزو اصولـو څخـه دئ. پـه یـوه اداره کـي بایـد اداري تصامیـم واضـح وي، روښتیـا پـه پـام کـي ونیـول سي او چـاري پـه روڼ ډول تـر سره سي.

۳. حسـاب ورکونـه(Accountability): پـه ادارو کـي یـو بـل مهـم اخلاقـي اصـل دئ؛ تـر څـو، چـي پـه سـازمانونو کـي حسـاب ورکـول موجـود وي، تـر هغـې ورځـې پـوري اداري د رکـود پـه طـرف نـه ځـي.

٤. عامـه هوسـاینه: د اداري اخلاقـو څخـه یـوه مهمـه مسـله دا ده، چـي هلتـه بایـد د مامورینـو سره د عامـه هوسـایني فکـر موجـود وي، یـو مامـور بایـد د عامـه هوسایني لـه پـاره پـوره هڅـه وکـړي، هلتـه بایـد د تکلیـف او زحمـت ورکولـو آن تصـور لا بایـد موجـود نـه وي.

۵. لـه هـر ډول تعصـب ځـان سـاتل: دا د اداري اخلاقـو یـو مهـم ډول دئ، چـي د مراجعینـو د مراجعـې پـه وخـت کـي د قـوم، ژبي او جنسـیت پـه نـوم هیـڅ ډول تبعیـض مدیـر او مامـور تـه نـه دئ پـه کار د ټولـو چـاري بایـد پـه دقـت او سرعـت سره خـلاصي کـړي.

٦. د وخـت مدیریـت: مهـم اخلاقـي اصـل دئ. دا تـر ټولـو لـوی اداري اخـلاق او لـوړ فکـر دئ چـي پـه خپـل وخت یو مامـور دنـدي تـه حـاضر سي او پـرې نـه ږدي، چـي یـو لیري هیـوادوال پـه اوونیـو، اوونیـو یـوې امضـاء تـه منتظـر کـړي.

۷. مسـئولیت پذیـري: د اداري اخلاقـو لـه جملـې څخـه یـو مهـم ئـې مسـئولیت منـل دي، دا ډېـره ښـه خبـره ده کـه یـو څـوک صلاحیـت اخـلي، پـه هماغـه انـدازه بایـد مسـئولیت منونکـی هـم وي، بـې پروایـي اداري تخلـف بلـلای سـو.

۸. د اداري قوانینـو مراعاتـول: دا بـل مهـم بحـث دئ. د ټولـو نافـذه قوانینـو، لوایحـو ټینـګ رعایـت د غـوره اداري اخلاقـو ښرګندویـي کـوي، لـه قوانینـو ناخـبري یـا نـه رعایـت اداري اخـلاق نـه سـو بلـلای.

۹. لـه مراجعینـو سره ښـه سـلوک: یـو مدیـر یـا رهـبر بایـد پـه دې پـوه سي، چـي ښـه رویـه څومـره مهمـه ده، خپـل غـږ بایـد ټیټ وسـاتي، خپـل احساسـت بایـد کنټـرول کـړي.

۱۰. امانتـداري: مهـم اخلاقـي اصـل دئ. هـر کارمنـد بایـد دنـده امانـت وبـولي، خیانـت ونـه کـړي او د اداري هـر راز د حکمـت پـه موخـه پـه امانتـداری سره وسـاتي، محرمیـت مهمـه موضـوع ده.

۱۱. د خدمـت فکـر درلـود: د اداري نظـام د منځتـه راتلـو اسـاسي فلسـفه خلکـو تـه خدمـت کـول دي. بایـد د اداري اخلاقـو پـه سـترګه ورتـه وګـورو.

۱۲. کاري انضبـاط: پـه هـر سـازمان او اداره کـي نظـم، ترتیـب او انسـجام مهـم دئ او لـه هـر ډول غفلـت څخـه بایـد ځـان وسـاتل سي.

۱۳. لـه هـر ډول فسـاده ځـان سـاتل: کـه څـه هـم دا زمـوږ شرعـي مکلفیـت هـم دئ، خـو اداري اخـلاق دا ایجابـوي، چـي لـه هـر ډول فسـاد څخـه بایـد کار کوونکـی ځـان وسـاتي، لـه صلاحیـت غلطـه اسـتفاده، ناوختـه راتـګ، پیسـې اخیسـتل او نـور ټـول مـوارد فسـاد بلـلای سـو.

۱٤. د کارونـو تعقیـب: دا پـه خپلـه د اداري یـو اخلاقـي اصـل دئ، چـي د مراجعینـو کارونـه پـه منظـم ډول تعقیـب سي، مـوږ ډېـرى مراجعیـن وینـو، چـي پـه میاشـتو میاشـتو ئـې اسـناد ځنډېـږي؛ حتـی پـه ادارو کـي ورک سي، راز دا دئ، چـي کارونـه نـه تعقیبیـږي.

۱۵. درسـته لارښـوونه کـول: دا بـل مهـم اخلاقـي اصـل دئ، چـي مراجعینـو تـه سـمه لارښـوونه وسي او د کار د خلاصیـدو اسـاسي لاره او مرجـع ورتـه پـه ګوتـه سي.

### د اداري اخلاقو په وړاندي ننګوني:

د اداري اخلاقو په وړاندي ځیني ننګوني هم سته، چي په لنډ ډول ئې یادونه کوو.

**سـیاسي فشـار:** ځینـي وخـت سـیاسي فشـارونه د اداري اخلاقـو پـه وړانـدي خنـډ بلـل کېـدلای سي.

**کلتـوري محدودیتونـه:** ځیني وخـت نا سـم کلتورونه حاکم وي او د اداري اخلاقو د عدم تطبیق سـتونزه راولاړولای سي.

**کمـزوري قانـوني میکانیزمونـه:** د کمـزورى میکانیـزم شـتون هـم د اداري اخلاقـو پـه وړانـدي چلنـج بلـلای سـو.

د علـم او عامـه پوهـاوي نـه شـتون: ډېـرى وخـت د اخلاقـي مـواردو اړونـد د معلوماتـو نـه شـتون پـه خپلـه یـوه ننګونـه ده، چـي د اداري اخلاقـو د نـه شـتون تشـه رامنځتـه کـوي.

### د اداري اخلاقو د رامنځته کولو لاري چاري :

- شرعي حکمونه، فضیلتونه او وعیدونه بیانول
- عامه پوهاوی رامنځته کول
- اخلاقي کوډونه او میکانیزمونه رامنځته کول
- د سازماني اخلاقو پلي کوونکي مامورین تشویقول
- د جزا سیسټم تقویه کول
- په علمي مراکزو کي د اداري اخلاقو اړوند روزنیزي برنامې پلانول.


# اعلانات داوطلبی

**اعلان داوطلبی**

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه دوکاکین ذیل واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه پنجم و (۴) باب دوکاکین ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل را به شکل آفر سر بسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد، مدت(۲) سال.

۱.دوکان نمبرD۷ بمساحت (۱٦,۹٦) مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۰۰۰) افغانی.

۲.دوکان نمبرD۸ به مساحت(۱٦,۹٦) مترمربع واقع منزل دوم نظیف مارکیت کوته سنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۰۰۰) افغانی.

۳.به تعداد(۳۲) باب دوکان نمبر(A۵٦ الیA۸۸) به مساحت(۵۰٤) مترمربع واقع نظیف مارکیت کوته سنگی مربوط ناحیه پنجم شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۲۸۰۰۰) افغانی.کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦-۳٤,۵۱۵۲۷۲

٤. یکباب دوکان نمبر(۱۷۵) به مساحت (۲,۸) مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۲۳۲۱ ) افغانی.

۵.یک باب دوکان نمبر (۱۵۰) به مساحت (٦,۳۸) مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲۲٦۵۰) افغانی.

٦.یک باب دوکان نمبر(۱٦٤) به مساحت (٦) مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۲٦۵۰) افغانی.

۷.یک باب دوکان نمبر(۱٦۵) به مساحت(٦) مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۲٦۵۰ ) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۵٦ - ۳٤,۵۱۷۱

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایدادهای فوق را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ ( ۱۸/ سرطان/ ۱۴۰۴ الی۲۴/سرطان/ ۱۴۰۴) به مدت (۷) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیرتعمیر۱۴منزله،منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)

تاریخ مجلس داوطلبی: ۲۵/ سرطان/ ۱۴۰۴ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهور برگزار میگردد.

**اعلان داوطلبی**

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه (۴) جایداد امارتی ذیل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد، به مدت(۳) سال.

۱. صالون سینما پامیر دارای دو منزل، به مساحت مجموعی(۹۱۷,۵۲) مترمربع واقع تعمیر۱٤ منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول شهرکابل جهت فعالیت فرهنگی به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۳۳۰۵۹ ) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر)٦۹,۱۷۲۱۹ -۳٤,۵۱۳٤۲

۲. موازی(۵۸۰۳۹) مترمربع زمین بنام شهرک دوستی واقع ارزان قیمت مربوط ناحیه (۱۲) شهرکابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٦٦۷٤۵) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر)٦۹,۳۱۵۹٤٦ ۳٤,۵۰۷۱٤۵

۳. موازی(۱۲۰۵٤) مترمربع زمین واقع چهار برجک یکه توت مربوط ناحیه ۹ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱۲۰۵٤ ) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر)٦۹,۲۰۸۲۱۷ -۳٤,۵۳۳۱۷۱

٤. موازی(۲۲۷۰) مترمربع زمین پشمینه بافی واقع پکتیا کوت عقب تانک تیل هوتکیان مربوط ناحیه نهم شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۵۱۰۸) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر)٦۹,۲۸۲۸ - ۳٤,۵٤٤۳

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق را داشته باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ( ۱۸/ سرطان/ ۱۴۰۴ الی ۷ / اسد/ ۱۴۰۴) به مدت (۲۱) روز به ریاست عمومی املاک امارتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس:سینما پامیرتعمیر۱۴منزله،منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز

شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)

تاریخ مجلس داوطلبی: ۸/ اسد/ ۱۴۰۴ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهور برگزار میگردد.

**اعلان داوطلبی**

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه موازی(۵۰) جریب زمین سفید قلعچه خمدان واقع عقب حوزه هشتم پولیس مربوط ناحیه هشتم شهر کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۳۸۳۳۰۰ ) افغانی به شکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد، مدت (۳) سال.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر)٦۹,۲۲٤۲۹۳ ۳٤,۵۰۰۰۱۵

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ ۲۲/ سرطان/ ۱۴۰۴ الی ۱۱/ اسد / ۱۴۰۴) به مدت (۲۱) روز به ریاست عمومی املاک امارتی واقع منزل چهارم تعمیر۱٤ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیرتعمیر۱۴منزله،منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز، شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)،

تاریخ مجلس داوطلبی: ۱۲/ اسد / ۱۴۰۴ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر برگزار میگردد

**اعلان داوطلبی**

مدیریت عمومی املاک امارتی مستوفیت ولایت هرات ساحه یک باب غرفه واقع ناحیه اول شاروالی (داخل مجتمع اداری ولایت) ملکیت مقام محترم ولایت هرات را بر اساس نرخ سابقه از طریق داوطلبی به گونه آفرگشایی مطابق به طرزالعمل قرارداد های املاک امارتی به اجاره دهد.}

۱- ساحه یک باب غرفه عکاسی و فتوکاپی واقع داخل مجتمع اداری ولایت با کرایه ماهوار مبلغ (٦۰۰۰) افغانی با کوردینات (٤۲۷۹٦۸-x) و (۳۸۰۱٤۰۱-y)

بناً اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن کانتین فوق باشند درخواست های خویش را برای مدت (۷) یوم اعتبار از تاریخ ۱٦ سرطان سال ۱٤۰٤ الی ۲۲ سرطان سال ۱٤۰٤ به مدیریت عمومی املاک امارتی مستوفیت ولایت هرات سپرده، شرطنامه را مطالعه، تامینات نقداً اخذ میگردد.}

تاریخ مجلس داوطلبی و آفر گشایی ۲۳ سرطان سال ۱٤۰٤ به ساعت ۲ بعد از ظهر در سالون جلسات این اداره برگزار میگردد

آدرس: مستوفیت ولایت هرات، مدیریت عمومی املاک دولتی

شماره تماس: ۰۷۹٤۳۳۸۹۸۹

شتمنی
SHTAMANI
اوونيزه

زموږ ماليه، زموږ هيواد، زموږ راتلونکی

د امتياز خښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبسايټ: mof.gov.af
ايکسپانه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)






## Delegation to the Northern Afghanistan

# Deputy Minister of Customs, Revenues Visits 9 Provinces

Deputy Minister of Customs and Revenues of MoF, Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed, led a delegation, which was accompanied by the General Director of Customs and the Deputy Director of Revenues in different provinces, traveled to 'Jawzjan, Faryab, Sar-e-Pul, Badakhshan, Takhar, Baghlan, Samangan, Balkh and Kunduz' during his official visit to the northern provinces of Afghanistan and met with provincial officials. In addition to meetings with the governors and Mustofis of some provinces, the Deputy

**Alhaj Mufti Abdul Matin Saeed;**

- Led the delegation and visited governors, and Mustofis.
- Overtook hangar project worth roughly 27 million Afs.
- Recommended the officials with honesty and integrity amid addressing the obstacles of clients.



Minister of Customs and Revenues and his delegation also met separately with the Governor, Mustofi and officials of Balkh, as well as the Director of Faryab Customs, the officials of this province; the Mustofi of Sar-e-Pul; and the Governor, Mustofi and the acting Director of Kunduz province, and national traders in Balkh. Hon. Saeed and his delegation also visited the affairs of the hangar construction project worth about 27 million Afs. Deputy Saeed made necessary recommendations to the officials of the aforementioned provincial directorates to carry out relevant matters with complete honesty and integrity, to address the problems of clients in a timely manner, to establish necessary coordination between provincial departments in relevant matters, to collect revenues in a transparent manner, and to reach a number of other relevant issues. Deputy Minister of Customs and Revenues also noted the problems of the provincial officials, and assured them of addressing the obstacles in a principled manner.

# General Directorate of Customs Activates 90kW 'PV System' Worth 8.8 mln Afs at Dand Patan Customs



The General Directorate of Customs of MoF has built a 'photovoltaic (PV) system' with a capacity of 90kW (kilowatts) at Dand Patan Customs in Paktia Province at a cost of 8.8 million Afs, and handed it over for utilization. Previously, the electricity of the customs was provided by a generator, which consumed an average of 8L/h (eight liters of diesel per hour) during its 16-hour operation, costing 8,448 Afs daily; 253,440 Afs per month, and more than three million Afs annually. With the activation of this solar power system, millions of Afs will be saved annually, and technical problems will also be reduced, technicians estimated. Notably, the cost of this project was paid for from the development budget of MoF, and was implemented by an Afghan corporation.




# د روسيې استازي په لوېديځو هيوادونو کي د افغانستان د کنګل سويو شتمنيو د خوشي کېدو غوښته وکړه



د تاس ـ TASS په نوم روسي خبري اژانس په راپور کي راغلي، چي د افغانستان له پاره د روسيې د ولسمشر ځانګړي استازي ښاغلي ضمير کابلوف و ويل، چي متحده ايالات بايد د افغانستان (۱۰) ميليارده ډالره شتمني خوشي کړي او اروپا بايد هغه (۲,۵) ميليارده ډالر بيرته کابل ته واستوي، کوم چي د سويس په بانک کي د بشري مرستو له پاره ساتل سوي دي. کابلوف د افغانستان په اړه د کاري ډلو د مشورو تر توجهاتو وروسته، چي د قطر په پلازمينه دوحه کي د ملګرو ملتونو تر څارني لاندي ترسره سوي ول، و ويل: "موږ دې حقيقت ته پام اړولی دئ، چي د افغانستان ستونزي د غونډو، کانفرانسونو او داسي نورو له لاري نه سي حل کېدلای. افغانان مشخصي مرستي ته اړتيا لري، نه د موجوده ستونزو تحليل ته." اژانس د ډيپلومات په حواله زياتوي، چي مسکو د کابل د ملاتړ په برخه کي "په صادقانه او عملي ډول" عمل کوي. هغه د روسيې او افغان پلاوي د (مې) په مياشت کي په کازان کي د سوداګرۍ دغونډې يادونه هم وکړه. په راپور کي ښاغلي کابلوف نه يوازي د لوېديځوالو له خوا د افغان شتمنۍ د خوشي کېدو په هکله نظر څرګند کړی دئ؛ بلکي کازان فورم ته په اشارې سره د روسيې له خوا د پروژو په هکله ئې داسي الفاظ وړاندي کړي دي: "دوی د هغو پروژو په اړه خبري وکړې، چي روسيه د خپلو اقتصادي او نورو وړتياوو په پام کي نيولو سره، کولای سي برخه واخلي او له افغان وګړو سره په دې وضعيت کي د دوی د بقا او پايښت په موخه مرسته وکړي." راپور په وروستيو کرښو کي د افغانستان او روسيې د اړيکو د سمېدو يادونه هم کوي.

- **متحده ايالات بايد د افغانستان (۱۰) ميليارده ډالره شتمني خوشي کړي او اروپا بايد (۲,۵) ميليارده ډالر بيرته کابل ته واستوي.**
- **د افغانستان ستونزي د غونډو او کانفرنسونو له لاري نه سي حل کېدلای، افغانان مشخصي مرستي ته اړتيا لري.**
- **مسکو د کابل د ملاتړ په برخه کي "په صادقانه او عملي ډول" عمل کوي.**

## د شکايتونو اورېدلو آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چي د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندي ادرسونو له لاري شريک کړي.

تيليفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳ / ۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰ / ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (+۹۳)

برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af



## د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومي ستونزي حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

## رياست عمومی ګمرکات وزارت ماليه هميشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!

تماس: ۲۲۱